


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## صيام الدين « پسرلی »

د نشر نېټه : 21 اکتوبر 2015 م

# فرعون او شيطان

د مصر بادشاه فرعون؛ چې د خدايي دعوه يې کوله، يوه ورځ يې يو نفر دربار ته راغی او د تولو درباريانو مخ کې يې ورته وويل :
که ته رښتيا خدای يې، نو د انګورو دغه وږی چې زما لاس کې دی، په سرو زرو واړوه !
فرعون ترې يوه شپه او ورځ وخت وغوښت .
توله شپه يې فکر وکړ، چې څه چاره وکړي، تر څو دروغجن نه شي، کومي پايلي ته وه نه رسيد. په همدې فکرونو کې ډوب وو چې کوټې ته نږدې يې د چا د راتلو اواز محسوس کړ .
فرعون ورغږ کړ: څوک يې؟
شيطان کوټې ته را داخل شو او ويې ويل:
سر دې و خوري ستا دا خدايي، چې د دروازې شا ته څه شی نه شې پيژندلی !
وروسته يې د انګورو په وږي جادو او منتر وويلو، وږی په سرو زرو واوښتو .
فرعون ته يې مخ کړ او ويې ويل:
زه له دومره کمالونو سره سره د الله تعالی د بندګۍ وړ نه شوم او ته د دومره تيتوالي سره د خدايی دعوه کوې !!
شيطان د تلو په حال کې وو، چې فرعون ترې وپوښتل:
نو ولې دې انسان ته سجده وه نه کړه، چې بيا ورټل شوې؟
شيطان ځواب ورکړ:
پوهيدلم چې د انسان له نسله به ستا په څير خلک پيدا کيږي

ژباړه : د فضل ربي صيب له وال څخه

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org